# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دولسم کال، یوسلو یو څلویښتمه گڼه د ۱۳۹۷ د کب میاشت

د افغانستان بانک



## د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو څخه د مخنیوي د همغږۍ عالي کمیسیون غونډه جوړه شوه



# اطلاعیه

به اطلاع هموطنان عزیز رسانیده میشودکه، انجام معاملات مالی با فراهم کنندگان خدمات پولی (حواله داران) و صرافان غیر مجوز بر علاوه اینکه اعتبار قانونی ندارد، دارای مصونیت قانونی نیز نمی باشد.

# خبرتیا

ټولو هېوادوالو ته خبر ورکول کېږي چې پرته له جوازه د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو (حواله دارانو) او صرافانو سره معاملې ترسره کول د قانوني اعتبار نه لرلو سربېره، قانوني مصؤنیت هم نه لري.

## بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگر: عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: آمریت عمومی دفتر ریاست، د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دي ګڼې مطالب


دهلیز هوایی هرات- دهلی سر آغاز رونق تجارت زون غرب

د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو څخه د مخنیوي د همغږۍ ...

د مالي ثبات کمیټې لومړنۍ غونډه جوړه شوه

د افغانستان په بانکدارۍ نظام کې اسلامي بانکدارۍ ورځ تر بلې...

د افغانستان صادراتو اوس بهر ته بېلابېلې لارې موندلي دي

تأثیر تکنالوژی روی سیستم های بانکی

د افغانستان بانک عملیاتی کړنو ته ځغلنده کتنه

منابع آبی افغانستان، فرصتی برای توسعه، اما با چالش های فراوان

د تفتیش او کنټرول ارزونه او مالي چارو کې د تفتیش ارزښت

اهمیت سکتور زراعت در رشد اقتصادی افغانستان

امنیت غذایی چیست؟

اهمیت مدیریت " ارتباط با مشتریان"

مختصری به اقتصاد جهان و افغانستان

فقر او بې وزلي او د هغه د لمنځه وړلو لارې چارې

دمپنگ چیست و چرا از آن استفاده میگردد؟

مختصری در زمینهٔ سازمان های چابک


**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "مجله بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.




# دهلیز هوایی هرات- دهلی سر آغاز رونق تجارت زون غرب

از سال ۲۰۱۷ بدینسو، محصولات زراعتی کشور که ارزش آن به بیش از ۱۲۳ میلیون دالر میرسد از طریق دهلیزهای هوایی به سایر کشور ها صادر شده است. آغاز انتقال محموله های تجارتی از طریق دهلیز هوایی از هرات به سوی دهلی هند که به ارزش حدود ۱۴ میلیون افغانی میرسد، آغازگر تجارت محصولات زراعتی میان هند و زون غرب افغانستان بوده و بدون شک به صادرات کشور می افزاید.

ایجاد دهلیزهای هوایی میان افغانستان و سایر کشورها سبب گردیده است تا حجم صادرات افغانستان به مرور زمان افزایش یابد. دولت جمهوری اسلامی افغانستان برای توازن در بیلانس تجارت ( صادرات و واردات) و به تبع آن جهت توازن در بیلانس تادیات کشور همواره تلاش نموده است تا دهلیز های هوایی کشور را بنابر نبود راه های بحری بیشتر از پیش تقویت بخشد تا زارعین، تجار و متشبثین کشور بتوانند محصولات تولیدی خویش را به سایر کشور ها صادر نمایند که یکی از نمونه های آن در این اواخر ایجاد دهلیز هوایی هرات- دهلی است.

هند را میتوان از جمله بازارهای مناسب برای فروش محصولات زراعتی و مالداری افغانستان عنوان کرد که با بهره گیری از این دهلیز هوایی مطمئناً حجم صادرات ولایت های غربی افغانستان به هند افزایش خواهد یافت.

ایجاد دهلیزهای هوایی میان افغانستان و سایر کشورها نه تنها این که افزایش صادرات را در پی دارد، بل سبب می گردد تا دهاقین و سایر متشبثین به تولیدات خویش افزایش بعمل آورده و در رشد تولید ناخالص داخلی و ارز آوری به کشور سهم فعال خویش را ایفاء نمایند.▣

# د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو څخه د مخنیوي د همغږۍ عالي کمیسیون غونډه جوړه شوه



د ۱۳۹۷ کال د کب ۷ مه- د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو د مخنیوي د همغږۍ عالي کمیسیون د همکارۍ لومړۍ غونډه د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې جوړه شوه. د دې غونډې اصلي موخه له پیسو وینځلو سره مبارزه، د ترهګرۍ د مالي سرچینو له منځه وړل او همدا ډول د پیسو له قاچاقولو او مالي جرایمو څخه د مخنیوي په موخه د طرحې او پالیسۍ رامنځته کول وو.

د افغانستان بانک او د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو د مخنیوي دهمغږۍ عالي کمیسیون رئیس ښاغلي خلیل صدیق وویل چې د دې کمیسیون اصلي دندې د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو له جرمونو څخه د مخنیوي لپاره د طرحې او پالیسي رامنځته کول، له رامنځته شوې پالیسۍ څخه ارزونه او څارنه، د کمیسیون د داخلي همکاریو لپاره د یوه منظم چوکاټ رامنځته کول، د نړیوالو معیارونو او اړتیاوو په ځانګړي توګه د (FATF) یا د نړیوالو مالي اقداماتو د ډلې د وړاندیزیونو مراعت کول، د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د مخنیوي د قانون په اړه د وړاندیزونو او تعدیلاتو ارزونه، د اړوند اداراتو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول، د ښې همکارۍ په موخه د ښوونیزو ورکشاپونو ترسره کول، په ملي او نړیواله کچه د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل او مالي جرمونو څخه د مخنیوي لپاره د همغږۍ ترسره کول، ګڼل کیږي.

ښاغلي خلیل صدیق زیاته کړه چې د اړوندو اداراتو په ښې همغږۍ او همکارۍ سره به د تروریزم له مالي سرچینو، نشه يي توکو، پیسو وینځلو او مالي جرمونو څخه مخنیوي ترسره شي او په دې برخه کې به مثبت اغیز وکړي.

د ملګرو ملتونو د سازمان غړي هم په یاده غونډه کې له یاد کمیسیون سره د مرستې ټهر وواهه او زیاته کړه چې د مالي جرایمو او د ترهګرۍ د تمویل مخنیوی کولای شي مالي او اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره کړي.

په پای کې پریکړه وشوه چې د کمیسیون د پالیسی او طرحې د تصویب غونډه به د راتلونکې یوې میاشتې په ترځ کې ترسره شي، څو د کمیسیون د همکارۍ او د اړوندو ادارو د همغږۍ چارې کړندۍ شي.

د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون د دري دېرشمې مادې پربنسټ یاد کمیسیون د ۱۰ دولتي ادارو په ګډون رامنځته شوی چې د ترهګرۍ د تمویل او مالي جرایمو څخه د مخنیوي لپاره د ښې همغږۍ او همکارۍ له لارې خپلې کړنې ترسره کوي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د لوی رئیس سرپره د مالیې، عدلیې، بهرنیو چارو، کورنیو چارو، د نشه یی توکو پروړاندې د مبارزې وزارتونو، لویې څارنوالۍ، د ملي امنیت شورا او ملي امنیت ریاست استازو او د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز مشرتابه پلاوي ګډون کړی وو.▣

# د مالي ثبات کمیټې لومړنی غونډه جوړه شوه

د افغانستان د اسلامي جمهوري ریاست د مقام د ۱۳۹۷/۰۹/۱۳ نیټې د ۳۴۰ ګڼې حکم پر بنسټ، د مالي ثبات کمیټې لومړنی غونډه د مالیې وزیر او د مالي ثبات د کمیټې رئیس ښاغلي ډاکټر همایون قیومي، د افغانستان بانک عمومي رئیس او د مالي ثبات د کمیټې مرستیال ښاغلي خلیل صدیق او د کمیټې نورو غړو په ګډون سره د ۱۳۹۷ کال د کب میاشتې په ۱۴ نیټه باندې د افغانستان د اسلامي جمهوري ریاست کې جوړه شوه.

په دې غونډه کې د هېواد د بانکي سکتور د وضعیت په اړه د خبرو په ترڅ کې د دې نظام په وړاندې د شته ننګونو، د مالي ثبات د کمیټې د مقرراتي چوکاټ په اړه د اصلاحي پروګرامونو، د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره پلان شوي پروګرامونو او د مالیې وزارت او د افغانستان بانک ترمنځ د هوکړه لیک په اړه خبرې اترې او د نظرونو تبادله وشوه او اړین پرېکړې ونیول شول.

د مالي ثبات کمیټه په هېواد کې د احتمالي مالي کړکیچونو د تنظیم او مدیریت په موخه د لا ښه همغږۍ لپاره جوړه شوې ده، دا کمیټه لاندني دندې ترسره کوي:

۱. د مالي سیستم په اړه د افغانستان بانک لخوا د وړاندې شویو راپورونو کتنه؛

۲. د هېواد مالي ثبات په وړاندې د مالي کړکیچونو د مدیریت او له منځه وړلو په تړاو د اړینو اقداماتو اتخاذول؛

۳. د هېواد د نافذه قوانینو او د نړیوالو منل شویو معیارونو په پام کې نیولو سره د کمیټې د کاري کړنلارو او پالیسیو چمتو کول او ترتیبول. ▣



# د افغانستان په بانکدارۍ نظام کې اسلامي بانکدارۍ ورځ تر بلې پراختیا مومي

د افغانستان بانک د اسلامي بانکدارۍ پراختیا او ودې ته ژمن دی. په همدې بنسټ د افغانستان بانک هڅه کوي چې د هېواد په اسلامي ټولنه کې د بانکدارۍ په ټولیز نظام کې اسلامي بانکدارۍ ته هم وده ورکړي او په همدې موخه یې د افغانستان بانک په جوړښت کې د اسلامي مالي خدمتونو د وړاندې کولو او اسلامي بانکدارۍ تر عنوان لاندې آمریت رامنځته کړی دی.

اسلامي بانکوالۍ په هېواد کې د هېوادوالو لپاره یوه مهمه اړتیا بلل کېږي او د افغانستان بانک د شریعت له اصولو سره سم د اسلامي بانکوالۍ د دودیدو او د بانکدارۍ په ټولیز نظام کې د اسلامي بانکدارۍ د ونډې د پراختیا غوښتونکی دی.

اوسمهال په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د سکتور د پراختیا لپاره په بانکي نظام کې یو بشپړ اسلامي بانک پرانیستل شوی چې هېواد والو لپاره یې آسانتیاوې رامنځته کړې دي. اوسمهال په بانکداري سکتور کې اسلامي بانکوالۍ د چټکې ودې په حال کې ده چې د بانکي نظام په ټولګه کې د اسلامي بانکوالۍ د ونډې شتون ۹ سلنې ته رسېږي چې په راتلونکې کلونو کې به دا ونډه نوره هم پراخه شي.

د یادولو وړ ده چې د اسلامي بانکدارۍ پراختیا، اقتصادي ودې ته لاره هواره وي.

د اسلامي بانکدارۍ په اړه د عامه پوهاوي لوړوالی، اقتصادي وده او په دې لړ کې د شته ستونزو له منځه وړل هغه ننګونې دي چې اوسمهال د اسلامي بانکدارۍ د پرمختګ پر وړاندې خنډونه جوړ کړي دي، خو د اسلامي بانکدارۍ وده او پر وړاندې د خنډونو له منځه وړل د دولتي او خصوصي بانکونو ترمنځ همغږۍ او همکارۍ ته اړتیا لري.

په نړۍ کې د بانکدارۍ د سیستم له پرمختګ سره، اسلامي بانکدارۍ هم وده کړې ده چې د اسلامي هېوادونو په منځ کې ډیرۍ مسلمانان هڅولي دي، څو په بانکونو کې پانګه اچونه وکړي او د اسلامي بانکدارۍ له لارې خپل شتمنۍ بډایه کړي.

د اسلامي بانکدارۍ سیستم په اسلامي اصولو او ریښتو باندې ولاړ دی او په افغانستان کې به مثبت بدلونونه رامنځ ته کړي، ځکه اسلامي بانکداري د نړۍ د مروجې بانکدارۍ هدفونه تعقیبوي، یعنی د خلکو څخه د پیسو راټولول، او د ګټې لپاره د پیسو په کار اچول دي. خو »

اسلامي بانکدارۍ فعالیتونه د اسلامي اصولو په رڼا کې ترسره کېږي چې مهم اصل په کې د یوې معاملې څخه د لاس ته راغلې ګټې او تاوان ویشل دي.

په داسې حال کې چې په هېواد کې په بشپړه توګه اسلامي سوداګریز بانک شتون لري، ډېرى سوداګریز بانکونو چې د هېواد دننه فعالیت کوي د اسلامي بانکدارۍ څانګې فعالې کړې دي.

ډېرى اقتصاد پوهان او هېواد وال په دې اند دي چې د اسلامي بانکدارۍ په پراختیا او ودې سره به اقتصادي وده رامنځته شي او هغه خلک چې اوسمهال خپلې شتمنۍ په کورونو کې راکدې ساتي او یا یې په بالښتونو او خاورو کې ښخې کړې دي، سوداګریز حلقې ته را دننه او د اقتصادي پرمختګ لپاره لارې چارې هوارې کړي.

په داسې حال کې چې د اقتصادي بحران له کبله د نړۍ اکثره ستر بانکونه له تاوان سره مخامخ شوي، اسلامي بانکي سیستم د ودې په حال کې دی. اسلامي بانکي سیستم، چې د خلیج په عربي هېوادونو کې څو لسیزې پخوا دود شو، اوس یې لویدیځ هېوادونه هم تر خپل اغیز لاندې راوستي دي.

له هغه مهاله چې په افغانستان کښې دبانکدارۍ او اقتصادي علمي فرهنګ، دود شو، هغه مهال په هېواد کې په اسلامي شریعت سمباله سوچه اسلامي بانکدارۍ شتون نه درلود او همدا لوی لامل وو چې په افغانستان کې ټولې بانکي معاملې د نړیوالو بانکي بنسټونو له مخې پرمخ بیول کېدې، خو اوس اسلامي بانکدارۍ رامنځته شوې او هر څوک چې لیوالتیا ولري کولای شي د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې خپل پیسې سپما کړي.

ډېرى غربي هېوادونو د دې اعلان کړی چې ټول بانکونه کولای شي چې د عنعنوی بانکونو تر څنګ اسلامي بانکدارۍ هم پر مخ یوسي، دا چې غربي هېوادونو ته د اسلامي بانکدارۍ اهمیت څومره وو، هغوی پرې ښه پوهېده، همدا وجه وه چې د نړۍ ټول اسلامي بانکونه ته یې اعلان وکړ چې ټول اسلامي بانکونه کولی شي په ډېرې آسانی سره د جوازلاس ته کولو وروسته په غربی هېوادونو کښې لکه جرمني او داسې نور خپله اسلامي بانکدارۍ پیل کړي. له ټولو څخه مخکې دوه ډېر لوی هېوادونه چې کلک اقتصادي نظام لري چې انګلستان او امریکه ده، له مخکی په اسلامي بانکدارۍ پیل کړی دی.

په نړۍ کې د بانکوالۍ د صنعت او مالي خدمتونو د پراختیا تر څنګ اسلامي بانکوالۍ هم د نړۍ په مختلفو اسلامي او غیر اسلامي هېوادونو کې د پام وړ پرمختګونه کړي د بېلګې په توګه ۲۰۱۴ زیږدیزکال تر پایه پورې په نړۍ کې ۱۴۱ اسلامي بانکونه په کار بوخت وو چې ۵۵ سلنه یې د منځنۍ آسیا اړوند وو. دغه راز تر ۲۰۱۴ کال پورې ۳۶۰ مالي موسسې په شمول سوداګریزو بانکونو، د بیمې شرکتونه او د مالي اعتبارونو د ورکړې موسسې د نړۍ په ۴۰ هېوادونو کې د اسلامي مالي خدمتونو په لاره کې په کار بوخت وو، چې اوس یې شمېر نور هم لوړ شوی او ډېرى بانکونه اوس د اسلامي بانکونو د فعالیتونو په پراختیا لګیا دي.▣

حمیدالله فیضي

اخیستنې:


1. د افغانستان بانک ویب سایت، د شرعي بورډ خبري راپور، 2019-02-12، 09:19:58.
2. http://mieaoi.ir/article-1-788-fa.html
3. https://bmi.ir/fa/pages/162/




# د افغانستان صادراتو اوس بهر ته بېلابېلې لارې موندلې دي

د نړۍ هر هېواد د خپلو صنعتي، توليدي او کرنيزو اضافه محصولاتو لپاره په بهر کې صادراتي سرچينې لټوي او هڅه کوي چې صادرات يې د وارداتو په پرتله زياتې شي. افغانستان له صادراتي پلوه شاته پاتې دی او تر اوسه پورې اقتصادي خپلواکي نه لري. د دې دليل د کورنيو محصولاتو کموالی نه دی، بلکې د صادراتو لپاره د يوه پياوړي رسمي ستراتيژي نشتوالی دی. پاکستان چې د افغانستان د صادراتو لپاره تر ټولو ارزانه لاره وه، د افغانستان د سوداګريزو توکو د صادراتو لپاره خنډ ګرځېده او دې کار د افغانستان نوی دولت دې ته وهڅوو چې نورې لارې چارې ولټوي. له دې ډلې يو د چابهار بندر پرانيستل وو چې د هند په غوښتنې سره د کابل او نوي ډهلي ترمنځ د سوداګريزو راکړو ورکړو لپاره لاره هواره کړه.

د افغانستان عمده صادراتي اقلام قالين، وچه او تازه ميوه، نباتي بذرونه، قرقل پوست، کرنيز محصولات او داسې نور دي. له دې ډلې د افغانستان زعفران په نړيوالو بازارونو کې لومړی ځای لري. د سوداګرۍ وزارت د مسوولينو په وينا، تازه او وچه ميوه، زعفران، قالين، قيمتي او نيمه قيمتي ډبرې هغه شپږ عمده صادراتي اقلام دي چې په راتلونکي کې د افغانستان صادرات پياوړي کولای شي. په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان صادرات ۱۰ سلنه او واردات ۹۰ سلنه وو. په دې کال کې د ارقامو پر بنسټ، د افغانستان د صادراتو ارزښت ۶۰۰ ميليونه ډالرو ته رسېده، په داسې حال کې چې واردات بيا له ۱۰ ميلياردو ډالرو څخه زيات وو. خو د سوداګرۍ او صنايعو وزارت وايي

»

چې د ۲۰۱۸ کال په لومړیو اتو میاشتو کې د افغانستان صادراتو ۳۲ سلنه وده کړې ده. په همدې حال کې د ۲۰۱۶ کال په پرتله په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان صادراتو د ۱۶۰ میلیون ډالرو په ارزښت زیاتوالی موندلی دی. د افغانستان دولت د صادراتو د نوي ملي ستراتیژۍ په مرسته هڅه کوي چې په ځمکني او هوایي لارو باندې بېلابېلو هېوادونو ته پراخ شمېر محصولات صادر کړي. په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو کې افغانستان د هوایي لارو په مرسته هند، ترکیې او سعودي عربستان ته ګڼ شمېر سوداګریز مالونه صادر کړي دي.

د صادراتو د پیاوړي کولو په موخه پکاره ده چې د پانګه اچوونکو لپاره په صنعتي پارکونو کې د ځمکې او د برېښنا امکانات لازیات شي څو دا ګامونه د اسانه صادراتو لپاره لاره هواره کړي. باید وویل شي چې د ګاونډیو هېوادونو سره د سوداګریزو هوکړه لیکونو لاسلیک کول هم د صادراتو کچه زیاته کړې ده. د دې ترڅنګ، ډېر داسې نړیوال بازارونه شته چې افغاني محصولاتو ته د نورو په پرتله ګټوره پرې وځي. دولت باید داسې بازار موندنه وکړي چې کوم هېوادونه د کومو محصولاتو لپاره ډېره تقاضا لري څو په اغېزناکه صادراتو سره ډېره ګټه لاسته راشي. دولت باید په کورنۍ او نړیواله کچه د افغاني محصولاتو لپاره ننداریتونونه جوړ کړي څو نړیوال د دغو محصولاتو د کیفیت، ډولونو، بیې او داسې نورو ځانګړنو څخه باخبره شي.

د افغانستان د سوداګرۍ وزارت چارواکو د ۲۰۱۹ کال په جنوري میاشت کې رسنیو ته وویل چې اوسمهال د افغانستان سوداګریزې توکي د کابل-نوي ډهلي، کابل-ممبي، کابل-ریاض، کابل-استانبول، کابل-دُبی، کابل-الماتا، کابل-روسیه هوایي دهلیزونو له لارې او د دې ترڅنګ اروپایي ټولنې هېوادونو او چین ته صادرېږي. دوی وایي چې د هوایي دهلیزونو له لارې په ۴۰۶ الوتنو سره د سل میلیونه ډالرو په ارزښت ۵۲۰۰ ټُنه صادراتي توکي صادر شوي دي. د ۲۰۱۷ کال په پرتله په ۲۰۱۸ کال کې د هوایي لارو په مرسته د صادراتو ارزښت ۱۹ سلنه زیات شوی دی.

د ۲۰۱۸ کال په دسمبر میاشت کې د لاجورد ترانزیتي لاره پرانیستل شوه چې افغانستان د اروپایي هېوادونو سره نښلوي. دا لاره د صادراتو لپاره تر ټولو لنډه، ارزانه او ډاډمنه لاره ده. دغې لارې د فاریاب ولایت د آقینه بندر او هرات ولایت د تورغندي بندر له لارو بهر ته صادراتو باندې پیل کړی دی.

د افغانستان ولسمشر ښاغلی اشرف غني د سوداګرۍ او صنایعو د سرپرست وزیر د ورپېژندلو په غونډه کې وویل چې تر ۲۰۲۴ کاله پورې د افغانستان د صادراتو ارزښت به ۸ میلیاردو امریکایي ډالرو ته ورسېږي.▣

لیکوونکی: مسعود ودان

منابع او مآخذ:


1. http://www.bbc.com/persian/afghanistan-46552665
2. https://dari.wadsam.com/tag/
3. https://www.dw.com/fa-af/
4. https://www.8am.af//
5. https://www.moci/af/dari



# تأثیر تکنالوژی روی سیستم های بانکی

به نظر می رسد که با پیشرفت تکنالوژی؛ تغییراتی در نسل آیندهٔ بانکداری نیز ایجاد گردد. در حالی که بانک ها، بر روند پیچیده رسیدگی به درخواست ها، پافشاری می‌کنند، شرکت‌های بزرگ و نو تأسیس تکنالوژی اطلاعات، شروع به ارایه خدمات مالی، به مشتریان خود کرده‌اند. به عنوان مثال، در حال حاضر ۱۰ درصد از درآمدهای مالی شرکت استارباکس (Starbucks) به وسیله تیلفون‌های هوشمند به دست می آید. هم‌چنین شرکت آمازون، برای پرداخت هزینه، از طریق تیلفون های هوشمند، برنامه دارد. شرکت فیس بوک نیز به کاربرانش اجازه می دهد تا از طریق پیامرسان خود، مبادلات مالی‌شان را انجام دهند.

با توجه به مثال‌های فوق، بانک ها باید روند پیشرفت فن‌آوری را بپذیرند و به فکر ارایهٔ خدمات به مشتریان، به شیوه های جدیدتری باشند، در غیر آن، به زودی در رقابت با شرکت‌های فن آوری اطلاعات، شکست خواهند خورد.

**نقش تکنالوژی روی سیستم های بانک ها در جهان**

کریس اسکینر(Chris Skinner)، نویسنده کتاب بانک دیجیتالی(Digital Bank)، پیش‌بینی کرده است که تا ۱۰ سال آینده، کارت‌های اعتباری پلاستیکی از بین می‌روند و تیلفون‌های هوشمند جاگزین آن‌ها می‌شوند.

هم‌اکنون نیز در تعدادی از کشورهای اروپایی، امکان پرداخت هزینه سوختگیری موتر، با استفاده از ساعت هوشمند، وجود دارد. نرم‌افزارهای بانکی به کار رفته در این جایگاه‌ها، به راننده امکان می‌دهد که تنها با وارد کردن نوع سوخت و میزان سوختگیری، به سرعت



غلام‌حسن زاهدی

لیسانس پوهنځی اقتصاد پوهنتون کابل

»

هزینه را پرداخت کند.

برای برداشت پول، از خودپردازها (ماشین‌های خودکار)، دیگر نیازی به کارت اعتباری نیست، بلکه تنها کافی است کاربر با استفاده از نرم افزارهای بانکداری آنلاین تیلفون‌های هوشمند، کد کیو آر (QR-Code) را دریافت و وارد صفحه برداشت وجه شود.

در قرن ۲۱ داد و ستد مالی به صورت آنلاین انجام می‌شود و دیگر نیازی نیست تا مشتری بین شعب مختلف بانک ها، سرگردان گردد. پس سوال انیجاست که چرا زمانی که کاربر می‌تواند از طریق نرم‌افزار، یا یک تماس تیلفونی ساده، امور بانکی‌اش را به صورت الکترونیکی و فوری انجام دهد، باید ساعت‌ها در صف بانک، منتظر بماند؟

در آینده، شعب بانک ها به شکل نمایش‌گاه‌هایی در می‌آیند که تنها در آن، به مشتری‌ها، نحوه استفاده از خدمات بانکی آنلاین، آموزش داده می‌شود.

جهت وضاحت بیشتر، در ذیل تعدادی از کشور های که در پی ایجاد بانکداری به شکل جدید اند را مختصراً به معرفی می گیریم:

**۱. لهستان:** در حال حاضر در این کشور شرکت‌هایی اند که قصد دارند تا نسل جدیدی از بانکداری را ایجاد کنند. در سال ۲۰۱۲، میلادی ام. بانک لهستان (Mbank) معماری بانکداری اجتماعی را ایجاد کرد. مشتریان این بانک می‌توانند از طریق فیس‌بوک، معاملات مالی خود را انجام بدهند و از خدمات مختلف این بانک، مانند خدمات ویدیویی استفاده کنند.

مقامات ام.بانک، تقریباً تمام شعب خود را بعد از تأسیس بانکداری اجتماعی، تعطیل و هزینه نگهداری از زیرساخت‌های آن‌ها را به معماری بانکداری اجتماعی، منتقل کردند. در حال حاضر، ۷۵ درصد از مشتریان ام.بانک، کارهای بانکی خود را با استفاده از خدمات جدید انجام می‌دهند. هم اکنون با احراز هویت، در یکی از بانک‌های لهستانی می‌توان به راحتی در تمام بانک‌های دیگر حساب افتتاح کرد.

**۲. انگلستان:** به عنوان مثال دیگر، می‌توان به بانک تمام دیجیتالی اتم انگلیس (Atom bank) اشاره کرد. مشتریان این بانک، همه امور بانکی خود را با بهره گیری از تیلفون‌ها و ابزارهای پوشیدنی هوشمند انجام می‌دهند.

برای استفاده از خدمات این بانک، تنها کافی است که مشتریان نرم افزار آن را داونلود و ثبت نام کنند. سپس نوع حساب را مشخص و مشخصات فردی خود را وارد کنند.

امروز هزاران فروشگاه فزیکی و آن لاین وجود دارند؛ اما هیچکدام نمی‌توانند به اطلاعات شخصی کاربران، دسترسی پیدا کنند. فروشندگان هیچ تصوری از مشتریانی که بیرون از فروشگاه‌های آن‌ها فعالیت می‌کنند، ندارند و تنها می توانند شرایط آن‌ها را حدس بزنند. به عنوان مثال، فروشندگان نمی دانند که مشتری‌های آن‌ها، چه زمانی به سفر می‌روند، یا روز تولد آنان و خانواده‌شان، چه روزی است. ممکن است؛ درصورتیکه فروشگاه ها به اینگونه اطلاعات شخصی کاربرها، دسترسی داشته باشند، بتوانند به ایشان خدمات بهتری ارایه و میزان فروش خود را افزایش دهند.

**۳. اوکراین:** هم‌اکنون این روش، در بزرگ‌ترین بانک اروپای شرقی و اوکراین، با نام پریوات بانک (Private Bank) به کار گرفته شده است. فن‌آوری اطلاعات، بانک‌ها را مانند انسان‌ها عیار کرده است. اسکینر اعتقاد دارد که بانک‌های آینده، به زودی مشتریان خود را شناخته می‌توانند و درخواست‌های آنان را پیش‌بینی کنند که در آینده باید منتظر این نوع بانکداری بود.

بانک‌های آینده، نسبت به بانک های امروزی، اطلاعات بیشتری از مشتریان

»

خود خواهند داشت. بانک ها خواهند توانست از موقعیت شغلی یا اقتصادی یک نفر، آگاه شوند و به صورت خودکار به مشتریان خود قرض دهند.

هر بانک، نرم‌افزار توسعه یافته ویژه ی دارد که به وسیله نسل‌های مختلف توسعه دهنده‌ها، ایجاد شده است. زبان‌های برنامه نویسی و انواع روش‌های کدزنی، بسیار افزایش یافته‌اند و پیچیدگی‌های فراوانی دارند، اما رقابت با شرکت‌های فن آوری اطلاعات، به کمک رابطه های برنامه نویسی نرم‌افزاری (API) و ساده سازی آن، امکان‌پذیر خواهد شد.

هم‌اکنون تحلیلگران و برنامه نویسان حرفه ای، درباره نسل جدیدی از روش‌های ایجاد نرم افزار، صحبت می کنند. مقامات بانک‌ها، برای ساخت هسته دیجیتالی، نیاز به رابطه برنامه‌نویسی نرم‌افزاری دارند تا بتوانند خدمات بهتری، به مشتریان خود، ارایه دهند.

با استفاده از یک رابطه مناسب، می توان کاری کرد که مشتریان و شرکت ها، به راحتی بتوانند از خدمات بانک‌ها، استفاده کنند و از طریق شبکه‌های اجتماعی، مانند توییتر، معاملات مالی یا انتقال وجه را به صورت رمزشده انجام دهند.

در آینده، تمام پردازش‌های مالی، روی فضای ابری، انجام خواهد شد. به همین دلیل، مؤسسات مالی نیاز به همکاری با شرکت‌های فن آوری اطلاعات دارند تا بتوانند زیرساخت‌های آنرا آماده کرده، هزینه‌هایش را بپردازند.

**٤. هالند:** در سال ۲۰۱۳، اولین نوع از این بانک‌ها، ساخته شد. بانک هالندی دی. بی. ان (DBN) برای ارایه برخی از خدمات خود، به مشتریان اجازه داد، از وب‌گاه آمازون، بهره‌برداری کنند.

**٥. افغانستان:** افغانستان کشوریست که زیربناهایش در اثر چندین دهه جنگ از بین رفته و دارای حداقل امکانات پیشرفتهٔ است که امروز در نتیجه پیشرفت های تکنالوژی انترنت، خدمات مالی و مخابراتی فراهم شده است. هیچ یک از خدمات این کشور با پیشرفت‌های اخیر تکنالوژی به خصوص در انترنت، خدمات مالی و مخابراتی مطابقت نداشته است، اما امروز افغانستان در صدر کشورهای که سیستم ارسال پول از طریق موبایل هم مانند کشورهای رو به انکشاف از کینیا گرفته تا اندونیزیا فراهم شده، قرار دارد.

در این روزها اگر یک پولیس افغان را در پسته یا کمربند امنیتی، در حالی ببینید که در موبایل نوکیای خود می‌خواهد مطمین شود، معاش او به حساب مالی موبایلش انتقال یافته، یک امر خیلی غیر عادی نیست.

در افغانستان، جاییکه از میان تقریباً سی میلیون جمعیت، هفتاد در صد آن بی سواد اند و در حدود پنج در صد مردم حساب بانکی دارند، این یک واقعیت است.

## نتیجه‌گیری

بانک‌ها از اوایل تأسیس تا اکنون وظایف کلیدی و مهم را در تنظیم و مدیریت پول در کشورها انجام داده اند. از تشریحات مقاله چنین نتیجه‌گیری می‌شود که با پیشرفت تکنالوژی و فن‌آوری، فعالیت های بانک‌ها نیز پیشرفته‌تر و مُدرن‌تر خواهد شد.

امروز سیستم بانکی کشورهای جهان با پیشرفت تکنالوژی سیر صعودی خود را طی می‌نماید و به حد کمال خود رسیده است. جای خوشحالی است که بانک‌های افغانستان به شمول بانک‌های دولتی و خصوصی، به ویژه بانک مرکزی نیز از سیستم های تکنالوژی مُدرن و پیشرفته برخوردار است.▣

## منابع و مآخذ:


1. سایت بانکی و کارآفرینی
2. سایت باشگاه خبرنگاران
3. سایت روزنامه دنیای اقتصاد
4. سایت رادیو آزادی

# تفاهم نامه تبادل اطلاعات مالی میان مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی د افغانستان بانک و اداره مبارزه با جرایم اقتصادی لوی څارنوالی جمهوری ازبکستان به امضأ رسید



کابل، ۲۷ حوت ۱۳۹۷- مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی د افغانستان بانک مبتنی به حکم ماده سی و یکم قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم، تفاهمنامه همکاری پیرامون تبادل اطلاعات مالی مرتبط به پول شویی، تمویل تروریزم و سایر جرایم اصلی را با اداره محترم مبارزه با جرایم اقتصادی څارنوالی جمهوری ازبکستان در مقر سفارت جمهوری ازبکستان مقیم کابل در حضور داشت محترم یادگار خواجه شادمانوف سفیر محترم کشور جمهوری ازبکستان در افغانستان به امضاء رسانید.

براساس مندرجات تفاهمنامه متذکره، مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی د افغانستان بانک و اداره محترم مبارزه با جرایم اقتصادی لوی څارنوالی ازبکستان مکلف به جمع آوری، تحلیل، تجزیه و تسهیل تبادل اطلاعات مالی به صورت خود کار ویا بر اساس درخواست طرفین غرض حمایت در تحقیقات مربوط به پول شویی، تمویل تروریزم و سایر جرایم مرتبط می باشند. این تفاهم نامه به منظور ایجاد چارچوب همکاری، سرعت بخشیدن به تبادل اطلاعات، ایجاد یک میکانیزم و هماهنگی مؤثر در امر مبارزه علیه پول شویی، تمویل تروریزم و سایر جرایم اصلی در هر دو نهاد به امضاء رسیده است.

با توجه به همکاری های دو جانبه میان جمهوری اسلامی افغانستان و جمهوری ازبکستان و با در نظر داشت پیوند و ارتباطات تجاری میان دو کشور، این تفاهم نامه در امر مبارزه با پول شویی، جلوگیری از تمویل تروریزم و سایر جرایم اصلی مطمئناً تأثیرات مثبت و چشم گیری خواهد داشت.

قابل ذکر است که این نُزدهمین تفاهمنامه همکاری پیرامون تبادل اطلاعات مالی مرتبط به پول شویی، تمویل تروریزم و سایر جرایم اصلی می باشد که تا اکنون توسط مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی د افغانستان بانک با ادارات مماثل خارجی امضأ شده است.▪

## د افغانستان بانک لومړي مرستیال د کابل ښار د صرافانو د ټولنې له غړو سره لیدنه وکړه

۱۳۹۷ کال، د کب ۴ مه – د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د صرافانو د غوښتنو او همدا ډول د صرافانو له خوا د افغانستان بانک ته د راپور ورکونې د بهیر په اړه له صرافانو سره ولیدل.

د غونډې په ترڅ کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د پیسو وینځلو د قانون پر بنسټ صرافانو ته لازمي لار ښوونې وکړې او ټینګار وکړ چې د صرافانو له کړنو څخه د ترهګرۍ د تمویل او تورو پیسو د وینځلو په اړه ګټه پورته نشي.

ښاغلي نوشیر زیاته کړه چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې ټولې مالي معاملې له خوندیتوب څخه برخمنې وي او هیڅ ډول معامله هم د تورو پیسو د سپینولو لامل ونه ګرځي، ځکه صرافان د افغانستان مالي او پولي نظام د پیاوړتیا او پرمختګونو لپاره لارې چارې هواروي او د افغانستان بانک یې هم له قانوني کړنو څخه ملاتړ کوي.

په دې پروګرام کې د صرافانو د ټولنې استازو هم خپلې وړاندیزونه وړاندې کړل او د راپور ورکونې بهیر د لا آسانتیا غوښتنه وکړه، څو صرافان هم په آسانه توګه خپلې مالي معاملې ترسره کړي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د اړوندو آمرینو په ګډون ګڼ شمېر د کابل ښار صرافانو ګډون کړی وو.▣

## تیم فوتبال د افغانستان بانک در بین تیم های ادارات دولتی، مقام نائب قهرمانی را بدست آورد

کابل، ۹ حوت سال ۱۳۹۷، در مسابقات لیگ فوتبال ادارات دولتی که میان تیم های ادارات مختلف دولتی برگزار گردیده بود، تیم فوتبال د افغانستان بانک مقام نائب قهرمانی را از آن خود کرد.

این مسابقات دوستانه هر سال یک بار برگزار میگردد، که با آغاز ۳۰ قوس سال روان هجری شمسی میان ادارات دولتی تحت نظر فدراسیون فوتبال در غازی استدیوم کابل راه اندازی شد.

در روز نهایی این مسابقات که در میدان سبز فدراسیون کابل برگزار گردیده بود، تیم فوتبال د افغانستان بانک در مقابل تیم وزارت شهر سازی و مسکن به میدان رفتند. که در نتیجه مسابقه ۱-۲ به نفع وزارت شهر سازی و مسکن پایان یافت.

هدف از راه اندازی این مسابقات ضمن توجه به صحت کارمندان، ایجاد روابط خوب و روحیه همکاری بیشتر میان ادارات دولتی می باشد.

قابل یاد آوری است که در اخیر این مسابقات جوایز، مدال ها و تقدیر نامه های که از سوی فدراسیون فوتبال افغانستان آماده گردیده بود، برای تیم های قهرمان و نائب قهرمان جوایزی را اعطاء کرد که در این میان تیم فوتبال د افغانستان بانک با بدست آوردن ۱۲ مدال، چهار تقدیر نامه و یک تندیس آقای گول به محترم سید محسن سادات تفویض گردید.

قابل ذکر است که در مسابقات امسال تیم های د افغانستان بانک، ولسی جرگه، مشرانوجرگه، وزارت مالیه، تصدی خانه سازی، اصلاحات اراضی، وزارت شهر سازی و مسکن و وزارت اقتصاد اشتراک ورزیده بودند.▣



# منابع آبی افغانستان، فرصتی برای توسعه، اما با چالش های فراوان

آب در سیاست های اقتصادی و بین المللی هم مایهٔ دوستی و همکاری و هم مایهٔ دشمنی و اختلافات است. این منبع با ارزش در حال حاضر در محراق اساسی تصمیم گیری های مختلف اقتصادی و سیاسی بین کشور ها قرار گرفته است.

بر اساس ارقام ملل متحد، از ۱.۴ میلیارد متر مکعب آب جهان، تنها دوصد هزار متر مکعب آن قابل استفادهٔ برای انسان ها می‌باشد؛ به همین دلیل در کنار تأمین انرژی و غذا، تأمین آب نیز از مسائل مهم اقتصادی برای کشورها به شمار میرود.

منابع طبیعی افغانستان از جمله بزرگترین نقاط قدرت این کشور برای نیل به توسعه پایدار و همچنان یافتن جایگاه مقتدر در منطقه میباشد. از آنجا که استفاده مؤثر و بکارگیری درست منابع طبیعی یکی از راه حل های تأثیر گذار برای توسعه اقتصادی



احمد میلاد غوثی
آفیسر خطرات مالی، آمریت عمومی اداره خطرات

»

کشور های در حال انکشاف بشمار میرود؛ افغانستان نیز منحیث یکی از کشور هاییکه تازه در راستای رشد و توسعه اقتصادی گام گذاشته است، نیاز مبرم به استفاده مؤثر از این منابع دارد.

افغانستان در کمربند خشک جهان و در همسایگی بیابان های صحرایی آسیای مرکزی و در نزدیکی دشت های خشک خاور میانه و شبه جزیره عربستان واقع شده است. تنها مسئله ایکه افغانستان را از نگاه داشتن منابع سرشار آبی نسبت به کشور های منطقه برجسته ساخته است، موجودیت کوه های سر به فلک کشیده است که باعث جذب رطوبت و بارندگی های فراوان میشود. این خصوصیت عمده جغرافیایی افغانستان باعث ایجاد حوزه های وسیع آبی گردیده است که این حوزه ها شامل حوزه آبی رود هلمند با وسعت ۲۴۴۹ کیلومتر مربع، حوزه آبی آمو دریا که ۹۱.۵ کیلومترمربع ، حوزه هریرود – مرغاب با مساحت ۸۷.۴ کیلومتر مربع و حوزه دریای کابل با ۷۷.۷ کیلومترمربع است. افغانستان با داشتن چنین حوزه های آبی از جمله غنی ترین کشور های منطقه از نگاه منابع آبی بشمار میرود.

با این همه منابع سرشار، کشور ما هنوز هم به مشکل کمبود آب برای زراعت و نوشیدن روبرو است. کمبود آب دو نوع می‌باشد که نوع اول آن کمبود فزیکی آب و نوع دوم آن عدم دسترسی به آب در اثر مشکلات اقتصادی می‌باشد.

بربنیاد آمار بین‌المللی، افغانستان با کمبود فزیکی آب روبه‌رو بوده و به اثر مشکلات اقتصادی دسترسی افغان‌ها به آب های موجود نیز کم می‌باشد. بر اساس یافته‌های یک سروی، ۷۸ درصد مردم در شهرهای افغانستان به آب آشامیدنی دسترسی دارند و این رقم در دهات و قریه‌ها به ۳۹ درصد کاهش می‌یابد و به صورت مجموعی ۴۸ درصد مردم افغانستان به آب پاک دسترسی دارند که در مقایسه به کشورهای دیگر در سطح پائین قرار دارد.

مشکلات آب در افغانستان بسیار گسترده بوده که در اینجا مختصراً به چند بخش آن اشاره می‌نمائیم:

افغانستان تا حال تنها با یک همسایه اش توافقنامه تقسیم آب‌ها را به امضاء رسانیده است. این توافقنامه در زمان صدارت موسی شفیق با پادشاه پهلوی ایران در مورد آب‌های دریای هلمند، عقد گردید.

عدم موجودیت قراردادها و توافقات در مورد استفاده از آب‌های افغانستان با کشورهای همسایه، مشکلات زیادی را فراراه افغانستان قرار خواهد داد، چون هر زمانیکه افغانستان به ساختن بندها اقدام می‌نماید با واکنش هایی از طرف همسایه‌گان روبه‌رو می شود. باید گفت که با عقد قراردادها با کشورهای همسایه، این آب‌ها نه تنها باعث تنش در روابط با این کشورها نخواهد شد، بلکه عامل افزایش همکاری‌ها میان افغانستان و این کشورها نیز خواهد گردید.

موضوع و مشکل دیگر آلودگی آبهاست. هر چند مشکل آلودگی آب ها در افغانستان هنوز به یک مشکل اساسی مبدل نگردیده، ولی از لحاظ صحی این مسئله در حال تبدیل شدن به یک مشکل جدی است که باعث مشکلات صحی و حتی سبب مرگ از هموطنان ما می شود.

مشکل اساسی دیگر، استفاده غیر مؤثر و مدیریت نا درست این منابع میباشد که متاسفانه افغانستان نتوانسته از این منابع به نفع اقتصاد کشور استفاده بهینه داشته باشد. رفته، رفته ما با خبرهای ناخوشایندی در

»

باره آب های کشور ما روبرو میشویم.

تغییرات اقلیمی در جهان، اولین قربانی که میگیرد، منابع آبی است. ما در گذشته حدود ۵۸ میلیون مترکعب آب های سطحی و حدود ۱۸ میلیارد مترمکعب آب زیر زمینی داشتیم، اما در نتیجه مطالعاتی که JAICA انجام داده است، در حال حاضر از آن مقدار آب های سطحی چیزی حدود ۴۹ میلیارد مترمکعب باقی مانده و آب های زیر زمینی نیز کاهش قابل ملاحظه ای را با افزایش میزان آلودگی به همراه داشته است.

باید افزود که این بحران میتواند مشکلات و منازعات آبی موجود بین کشورهای منطقه را بشدت تندتر بسازد و مسئله مدیریت مؤثر آب های افغانستان را مشکل تر بسازد.

باید پذیرفت که ما تا هنوز نتوانسته ایم از حوزه های مشترک آبی خود استفاده اعظمی کنیم و این موضوع باعث گردیده که همه ساله میلیاردها متر مکعب آب از کشور ما به گونه رایگان به بیرون سرازیر شود. منازعات آبی افغانستان تنها با کشورهای همسایه خلاصه نمیشود، بلکه حوزه آبی کابل و سایر جاها که پر آب ترین و بهترین منابع آبی کشور به شمار میروند، آب آنها تقریباً بدون استفاده مؤثر از افغانستان خارج شود و تا هنوز قادر به این نشده ایم تا از اکثر آنها که میتوانند در پهلوی آبیاری ساحات بسیار وسیع زراعتی مقدار هنگفت انرژی نیز تولید کنند، حتی به اندازه ایکه بر علاوه تکافوی نیاز های داخل کشور به برق، فرصت صادر کردن برق به دیگر کشور ها را نیز نصیب افغانستان بگرداند، استفاده مؤثری داشته باشیم.

## نتیجه گیری:

در نتیجه گفته میتوانیم که برای رسیدن به رشد و توسعه اقتصادی پایدار باید از منابع آبی کشور استفاده اعظمی صورت گیرد، اول از طریق مهار کردن آبها به هدف تولید انرژی برق که زیربنای زیربنا گفته میشود و بعد سیراب سازی زمین های فراوان که به دلیل نرسیدن آب از کشت باز مانده اند و دوم میتوان با اقدام به فروش هر متر مکعب این منابع با ارزش به دالر عاید خوبی را نصیب کشو سازیم.▣

منابع :


۱. https://iwpr.net/global-voices/water-pollution-silent-killer-north-afghan

۲. http://worldwater.org/wp-content/uploads/sites/22/2013/07/data_table_3_access_to_safe_drinking_water_by_country.pdf

۳. تحلیل شماره ۱۰۷ مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی، «د اوبو مدیریت؛ ستونزې او د برېښنا ظرفیت».

۴. ژورنال مطالعات آبهای افغانستان،م.د رضایی،جی.اف. شرودر،موسسه تحقیقاتی دران،۱۳۹۶.

5. ناب، جاوید، بررسی حقوق آب در افغنستان،انتشارات سعید،۲۰۱۵.

# د تفتیش او کنـــټرول ارزونه او مالي چارو کې د تفتیش ارزښت

د تفتیش (Audit) اصلي معنا پلټنه او لټول دي او د ترسره شویو کړنو د کنترول یو ډول دی چې د مالي او حسابي فعالیتونو په پای کې ترسره کېږي. یعنې د تیروتنو او اداري اشتباهاتو په باره کې معلومات راټولول او د سمون په موخه یې لازمې لارښوونې ترسره کېږي.

د قانون، مقررو او معیارونو پربنسټ د حسابي کړنو، مالي معاملاتو او د ځانګړې اداري د ترسره شویو کړنو ارزونې ته تفتیش یا کنټرول ویل کېږي.

پورتني معلومات د کړنو د تفتیش او کنټرول څرګندونکي دي، خو که چېرې ټول کارونه د قانون، مقررو او منل شویو معیارونو سره په ټکر کې وي بیا پورتنی تعریف نیمګړی دی، ځکه چې د پورتني تعریف موخه له معیارونو او قوانینو سره د کړنو پرتله کول دي.

ټول پوهیږي چې کنټرول او تفتیش داسې یوه وسیله ده چې د ترسره شویو کړنو له څرنګوالي څخه په ساده او ځانګړې توګه معلومات ورکوي چې لاندیني پړاونو له لارې ترسره کېږي.

**د کنټرول ډولونه**

**۱ – کنټرول**

د قوانینو او موخو په رڼا کې د کړنو مخکینۍ، رواني او راتلونکې ارزونې او همدا ډول د کړنو د څرنګوالي اغیز او اقتصادي والي ته کنټرول ویل کېږي، چې په لاندنیو کرښو کې یې د منځپانې بشپړې توضیح ته نغوته شوې دی.

الف. موثریت یا :Effectiveness :
موثریت د کارونو په ښه توګه اجرا کولوته وایي، چې زمونږ سره د یوې اداري یا سازمان د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، په موثریت کې د کیفت مسله زیاته مطرح ده.

ب .مولدیت Productivity :د پانګې او محصول ترمنځ بیلانس ته ویل کېږي چې په هغه کې کیفیت ته ډیره پاملرنه کېږي.

ث .مثمریت، ګټورتیا یا : Efficiency:
ګټورتیا د کړنو په سمه توګه ترسره کولو ته وایي، چې په پایله کې یې له کمې پانګې څخه په ګټې اخیستنې سره زیات محصول په لاس راشي، یعنې هغه وخت په کارونو کې ګټورتیا شته چې محصول په کې د پانګې په پرتله ډیر وي. په ګټورتیا کې دغه ټکي ډېر د پام وړ دي :
۱.کمیت ۲.قیمت ۳.وخت

پورتنیو تعریفونو ته په کتو لیدل کېږي چې کنټرول په منځ کې د ارزونې او پلټنې ټول پړاونه له ځان سره لري چې همدا ټکی د تفتیش او کنټرول ارزښت ته پراختیا ورکوي.

**۲. مخکینی کنټرول**

د ارزونې هغه پړاو دی چې د کړنو له پیل څخه مخکې ترسره کېږي او د دې ارزونې موخه د چارو پر وړاندې د



حمیدالله فیضي بابکرخیل
د افغانستان بانک د ریاست د دفتر د لوی آمریت د عامه پوهاوی مدیر

ستونزو او نیمګړتیاوو له منځه وړل وي.

اوس دې پایلې ته رسیږو چې مخکینی کنټرول د قانون ارزونه ده چې په راتلونکې کې له قانوني سرغړونو او تیروتنو څخه مخنیوی وشي. څیړونکي په دې اند دي هر څومره چې مخکینی کنټرول کره وي، په وروستیو پړاونو کې نیمګړتیاوې او تیروتنې کمې رامنځته کېږي.

**۳. روان کنټرول**

د ارزونې هغه پړاو ته وایي چې د کړنو په لړ کې ترسره کېږي او موخه یې د نیمګړتیاوو او تېروتنو د دوام مخنیوی دی. د دې تعریف څخه موخه هم د کړنو د ترسره کولو په لړ کې د تېروتنو او نیمګړتیاوو مخنیوی ګڼل کېږي، له همدې امله په ټوله نړۍ کې د کنټرول او تفتیش سیستم د مشرتابه پلاوي یا رهبري د پام وړ وي، ځکه چې یوازې له منفي

کړنو سره مبارزه نه، بلکې د هغوی له رامنځته کیدو څخه مخکې تر مخکې مخنیوی دی.

روان کنټرول د ارزښت له پلوه ډیرو اغیزمنو ګټو څخه برخمن دی، د دې لپاره چې د مالي، حسابي او اقتصادي کړنو ترسره کیدل له روان کنټرول پرته ګټور نه وي. دبېلګې په ډول: که چیرې د ارزونې او پلټنې موخه دا وي چې د توکو له تسلیمی او روغتیا څخه ډاډ ترلاسه شي، یوازې او یوازې د روان کنټرول له لارې کولای شو پایلې ته ورسیږو. په ګمرکاتو د توکو د محصول ورکولو څخه ډاډ، د دولتي مرسته شویو توکو له ویشلو څخه کنټرول، خوراکي توکي او داسې نور څیزونه ترسره کیدل، د روان کنټرول پرته ناشونې دي.

**۴.وروستنی کنټرول**

د ارزونې پړاو چې د ترسره شویو کړنو په وروستیو کې ترسره کیږي او موخه یې د ترسره شویو کړنو پرتله کول هغه څه سره دي چې تاسو غوښتل ترسره یې کړئ یا هم په پلان کې توضیح شوي ول. په دې تعریف کې لیدل کیږي چې وروستنی کنټرول د ترسره شویو کړنو په وروستیو کې ترسره کیږي او ترسره شوې کړنې له وړاند وینو، موخو، قوانینو، مقررو او معیارونو سره پرتله کیږي.

**۵.تفتیش**

د چارو په پای کې وروستني کنټرول ته ویل کیږي چې د مالي او حسابي کړنو په پای کې ترسره کیږي او موخه یې د مالي قوانینو، لګښتي قوانینو له څرنګوالي څخه ارزونه ده چې د یوه کال په ترڅ کې ترسره شوي دي که څنګه.

پلټنه او ارزونه یا تفتیش په حقیقت کې د مالي لګښتونو د ګټور توب او اغیزو ارزونه او همدا ډول دقانون د ترسره شویو کړنو چې د قانون تر سیوري لاندې ترسره شوي کنټرول دی او په وروستیو کې د دولتي بودجې په ګټه توپیرونه بربنډوي. د یادولو وړ ده چې یوازې د نیمګړتیاوو او تیروتنو څرګندول او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې پیژندل دا تفتیش یا کنټرول نه دی، ځکه خنډونه او منفي کړنې بر بنډوي او ستونزې له منځه وړي، څو چارې په ښه توګه ترسره شي.

د یوه پلټونکي یا کنټرولر چارې د یوه طبیب په شان دي چې باید ناروغي تشخیص، لاملونه یې څرګند او بیا د درملنې لپاره متې راونغاړي او پرته له دې یوازې ناروغي له منځه نه ځي، بلکې نوره هم پراختیا مومي. په همدې توګه که چیرې د غلا، سرغړونو او بډو اخیستنو مخه ونه نیول شي، ورځ تر بلې په یوه دود بدلیږي او بیایې مخنیوی هم ګران دی.

**الف: د تفتیش او کنټرول کچه**

کنټرول او تفتیش د ارزښت له پلوه په بېلا بېلو کچو ترسره کیږي چې د ارزونې هره کچه یې له بل سره د زنجیر په توګه تړلتیا لري او د دې تړلتیا له امله بشپړ ګټور او کنټرول رامنځته کوي. په بشپړه توګه ویلای شو چې کنټرول او تفتیش په ټولیزه توګه دریو کچو پلې کیږي چې لاندې ډول دي.

**۱. ارزونه د قانونیت په کچه**

**۲. ارزونه داقتصادي والي او رښتینوالی په کچه**

**۳. ارزونه د ګټور والي او د موخو د پلې کیدو په کچه**

**۱- ارزونه د قانونیت په کچه**

د اروزونې یا تفتیش لومړنی او پیلیدو کچه د قوانینو، مقررو او تصویبونو د پلې کیدو د څرنګوالي ارزونه ، مالي، حسابي او ا قتصادي معاملاتو او کړنو ارزونه او نورو برخو کې څیړنې او ارزونې ته تفتیش ویل کیږي، یعنې کنټرول کوونکی اړ دی چې د کنټرول او تفتیش په پړاو کې لومړی قوانین او مقررې په پام کې ولري، د بېلګې په توګه په بېړودلو کې باید حسابي او بېړودلو مقرره په پام کې ونیول شي چې په بشپړه توګه پلې شوې ده یا هم په ودانیزو چارو کې باید د ودانیزو چارو معیارونه او نورمونه په پام کې ونیول شي.

**۲- اقتصادي والي او رښتینولی په کچه**

د ارزونې یا تفتیش دویمې کچې ته رښتینوالی او اقتصادیتوب کچه وایې چې د کنټرول او تفتیش پروسه رانغاړي. کله چې د قوانینو او مقررو له پلې کیدو څخه ډاډ ترلاسه شو، باید دویمې کچې ته ولاړ شو، ځکه چې په دې پړاو کې

»

کنټرول کوونکی یا تفتیش کوونکی ارزونه وکړي چې کړنې څومره اقتصادي، مالي او حسابي ترسره شوي دي.

### ۳ ګټورتوب او د موخو د پلي کېدو په کچه

